**بسم الله الرحمن الرحیم**

## ایا امریکا اوس هم د اروپايي ټولنې غوښتونکې ده؟



**(ژباړه)**

د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال امریکا د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو ملاتړ کاوه او د پاشل کېدو او تیتېدو مخه یې نیوله؛ هېڅکله یې نه غوښتل چې وزرونه یې پرې شي. له دویمې نړیوالې جگړې وروسته یې د دغې ټولنې د پاتې شونو تضمین وکړ او د دې لپاره چې اروپا یو ځل بیا پر خپله لاره ولاړه شي، ملاتړ یې کاوه. کله چې دغه ټولنه وپاشل شوه او نوره اروپايي ټولنه نه گڼل کېده، په ځانگړې ډول هغه وخت چې انگلستان او فرانسه چې له دویمې نړیوالې جگړې تنگ شول او ډېر زیانونه یې ولیدل؛ له اروپايي ټولنې بېرون شول او امریکا هغه وخت په نړۍ کې په لومړي دولت بدله شوه. امریکا مخکني حالت ته د اروپا بیرته گرځېدل پر غاړه واخیستل. د دغې پروژې په سر کې داسې مارشال و چې امریکايي له اقتصادي کړکېچ څخه ژغورلې وه.

له هغو اقداماتو څخه د امریکا موخه دا وه چې اروپا پیاوړې کړي او د شوروي اتحاد پر وړاندې ترې گټه واخلي. ځکه په هغه وخت کې د شوروي ستورى ځلېده او په قدرت بدل شوی و، چې هغه ته په کمه سترگه نه شوی کتل کېدای او د امریکا لپاره یو گواښ بلل کېده؛ په ځانگړي ډول دا چې شوروي په هغه وخت کې ایډیولوژي هم درلوده. همدانگه امریکا د اروپا او غړو هېوادونو د پیاوړي کېدو هڅې وکړې؛ خو د اروپايي ټولنې او غړو هېوداونو په اړه یې د امریکا په سیاست کې د اوباما د سیاست له پیل څخه ځینې بدلونونه لیدل کېږي: امریکا

نوره د اروپايي ټولنې شتون نه غواړي، ولو که د يو نوم په کچه هم وي. په ډېرو بيانيو کې په دې اړه په څرګند ډول ليدل کېږي چې د اروپايي ټولنې له تيت او پاشل کېدو ملاتړ کوي، څنګه چې له اروپايي ټولنې څخه د انګليس د وتلو په اړه د ټرامپ خوشالي له هېچا پټه نه ده؛ بلکې له اروپايي دولتونو په ځانګړي ډول له المان او فرانسې څخه غواړي چې له اروپايي اتحاديې څخه بېرون شي.

کلونه کېږي چې امريکا د اروپايي ټولنې د قدرتونو په توازن کې په ځانګړي ډول د المان او فرانسې په منځ د هر ډول بې نظمۍ مخه نيسي؛ حتی له اروپايي ټولنې څخه د انګليس له وتلو وروسته. که امريکا په نړيوالو جګړو کې لاس درلود، يوازې د دې موخې لپاره و چې پر نورو غړو دولتونو د اروپايي ټولنې د غړو دولتونو د واکمنۍ مخه ونيسي. هر کله چې امريکا د المان د کمزوري کېدو هڅې کولې، دغه کمزري کېدل په دې کچه نه و چې فرانسه له پښو وغورځوي. د انګلس او فرانسې پر وړاندې د امريکا سياست کله چې د دغو دوو دولتونو اروپايي ټولنه رهبري کوله، همدارنګه و. له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د مارشال د پروژې له وخته او پر المان د بنديزونو لګېدل، په ځانګړي ډول د نظامي صنايعو، شرکتونو، بانکونو، امريکايي موسيسو او د اروپا په خيتځ او لوديځ کې د امريکا د نظامي اډوو په اړه اشغال کړی دی او په اروپا کې ډېری لوی شرکتونه اوس هلته فعاليت کوي؛ امريکا هلته برخه پکې لري. د الکترونياتو په برخه کې امريکا بشپړ واک لري. امريکايي شرکتونه، لکه ګوګل، فيسبوک او اپل د اروپا ټول بازارونه په لاس کې لري. د نفتو د صنعت په برخه کې د اروپا لويه برخه نفت د شيفرون امريکايي شرکت تر کنټرول لاندې دي.

هغه کمزوري چې په اروپايي ټولنه کې ليدل کېږي، د هغه وروستي کړکېچ په مرسته چې له اټومي هوکړې څخه د امريکا د وتلو په پايله کې د ايران او امريکا تر منځ پېښنه شوې، ښکاره شوه. همداچې امريکا د بېرون کېدو ګواښ وکړ، المان او فرانسه له سختې حيرانيتا سره مخ شول؛ تر دې د فرانسې ولسمشر يې اړ کړ چې د امريکا لمنې ته لاس واچوي او له هغه څخه وغواړي چې له تړون څخه ونه وځي؛ خو امريکا غوښتل هغو اروپايي شرکتونو ته زيان ورسوي چې له دغې هوکړې يې ګټه تر لاسه کوله. المان او فرانسې هغه لس ميلياردي تړونه چې له ايران سره يې درلودل، دغو تړونونو ته يې هېڅ پام ونه کړ. د ايران له بازار څخه يې د دغو شرکتونو وتلو ته ضرب الاجل وټاکه او د نه وتلو په صورت کې يې د بېرحمه بنديزونهو ګواښ ورته وکړ؛ هغه داسې چې المان او فرانسه يې داسې سره تيت کړل چې هېڅ مخينه يې نه درلوده.

خو دویم کړکېچ چې امریکا اروپا ته د زیان رسېدو لپاره رامنځته کړ، هغه بې شمېره گمرکي ماليې دي چې د فولادو، المونیمو او پر نورو وارداتو یې ولگولې. پر دې سربیره چې دا ډول مالیې د سوداگرۍ د نړیوال سازمان له قوانینو سره په ټکر کې وې. د دغو قوانینو پر بنسټ د سازمان غړي دولتونه له هېڅ ډول مالیو لگولو پرته پخپل منځ کې سوداگریزې معاملې لري، خو امریکا د دغو ټولو قوانینو پر وړاندې دیوال کېښود. امریکا خپل کورنی صنعت پراخه کړ او د خپلې کورنۍ سوداگرۍ د ودې لوړېدل یې پیل کړل. دغه بندیزونه یې پر چین او مگزیک تر بندیزونو وروسته هم ولگول او اروپا په ځانگړي ډول المان او فرانسې د سوداگري نړیوال سازمان ته تر مراجعې پرته نور هېڅ په وسه نه وو.

پر دې سربېره چې اروپا ته د یوې اتحادیې په سترگه کتل کېږي، په حقیقت کې یوه ورځ هم متحده نه ده او واحد او نړیوال سیاست نه لري. تل د انگلیس گټې له المان او فرانسې سره توپیر لري. هېڅ وخت اروپایي ټولنه پارلمان او اروپایي محکمه یو رښتینی او همغږی نړیوال سیاست نه لري. کله چې المان د سیاست له پلوه ځنډې ته شو، یوازې یې د اقتصاد په برخه کې رول لیدل کېږي. په همدغه ترتیب فرانسه هم سیاسي تمرینونه نه لري، هر کله چې کوم سیاسي گام پورته کړي، سیاست یې له هېچا پټ نه وي او امریکا ته یې د پایلو له منځه وړل ډېر اسانه دي. انگلیس هم د خپل تاریخي ځای په له لاسه ورکولو سره دې ته غاړه ایښې ده چې له امریکا سره ملگری شي او د هغې په ژوند کې ورسره شریک شي.

انگلیس که څه هم د خپلو مزدورانو په واسطه پیاوړی دی، خو په دې کچه نه دی چې د امریکا پر وړاندې ودرېږي. امریکا د انگلیس مزدور دولتونه یو پر بل پسې لکه مصر او عراق ترې واخیستل او د یمن او لیبیا د تر لاسه کولو هڅې کوي. دا په داسې حال کې ده چې انگلیس له دې وروسته د اروپایي ټولنې غړی هېواد نه بلل کېږي. پر دې سربېره چې ایټالیا د خپلو کورنیو تولیداتو په دلیل چې یونیم ټریلیون ډالر دي، د نړۍ درېیم اقتصادي هېواد بلل کېږي، خو بیاهم له اقتصادي او سیاسي کړکېچ څخه ځورېږي، د اروپا تر ټولو ښه اقتصاد (المان) یې هم ژغورلی نه شي. څه چې له یونان سره وشول او که ایټالیا بیاهم د مفلسۍ اعلان وکړي، دغه لویه وچه هم په غم اخته کېږي، چې المان یې هم پر وړاندې د درېدو وس نه لري.

امریکا له وړاندې پلان شوی او عملي هوډ د اروپایي ټولنې د پاشل کېدو لپاره نه دی نیولی. امریکا په اروپا کې داسې څه نه شي پیدا کولی چې په اړه یې اندېښنه وکړي او تل یې د اورپایي ټولنې دولتونو د پاشل کېدو مخنیوی کړی دی؛ که څه هم د ټرامپ ادارې په ډېرو مواردو کې دا څرگنده کړې چې امریکا له اروپایې دولتونو

سره شخصي اړیکو ته لومړیتوب ورکوي. د امریکا د سوداګرۍ وزیر د ایران له کړکېچ او ګمرکي مالیو وروسته وایي: «امریکا له اروپایي دولتونوسره نېغو او شخصي اړیکو ته لومړیتوب ورکوي.» بلخوا فرانسه هم داسې ښيي چې په شخصي ډول له امریکا سره خبرو ته چمتو ده؛ ولو که د الماني پر خلاف هم وي او په همدغه ترتیب سره غواړي چې د انګلس په رکاب کې پېښې کېږدي او له امریکا سره ملګرې شي. که امریکا پر دې بریالۍ شي چې فرانسه هم د انګلیس په مسیر برابره کړي، په دغه صورت کې یې اروپایي ټولنه پاشلې، ولو که د اروپایي ټولنې شکلیات پر ځای پاتې شي.

هغه پوښتنه چې اونۍ او یا راتلونکې میاشتې به یې ځواب کړي، دا ده چې ایا اروپا پر دې توانېدلی شي چې تازه نفس واخلي او یا دا چې امریکا یې منزوي کوي او د اروپایي دولتونو خوړل او تېرول پیلوي، پرته له دې نور دولتونه شک وکړي؛ چې همداسې ورځ به پر دوی هم راشي.

**لیکوال: استاد ابو المعتز بالله الاشقر**

**۱۴۳۹هـ.ق د ذولعقدې ۲۶مه**

**۲۰۱۸ م د ګېستې ۸مه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**